# افغانستان

د جنسیت شاخص
د ۲۰۲۴

UN WOMEN

د اروپايي اتحاديې
لهخوا تمويل شوی

# مقدمه

**د افغانستان د جنسیت شاخص، په هېوادکې د ښځو د پیاوړتیا او د جنسیت برابرۍ اوسنۍ حالت د پایښت لرونکي پراختیا موخو اړوند د اتو شاخصونو په رڼاکې ارزوي. د افغانستان د جنسیت شاخص د دوو شاخصونو په رڼاکې جوړ شوی دی. نوموړي دوه‌ګوني شاخصونه د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداري (UN Women) او د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام اداري (UNDP) لخوا په‌ګډه جوړ، او د افغانستان وضعیت ته ځانګړي شوي دي. دغه دوه‌ګوني شاخصونه عبارت دي له: «د ښځو د پیاوړتیا شاخص» (WEI)، او «د جنسیتي برابرۍ نړیوال شاخص» (GGPI). افغانستان کې د سیستماتیک او بنسټیز شوي جنسیتي نابرابرۍ کچه ښیي چې په دې اړه د پرمختګ (او یا شاتګ) ارزولو لپاره، دوامداره او پراخې ارزونې ته اړتیا شته. دا چې د ۲۰۳۰ کال د پایښت لرونکي پراختیا اجندا او د اړوندو موخو د پلي کولو لپاره یوازې پنځه کاله پاتې دي؛ افغانستان، د ښځو د پیاوړتیا او د جنسیتي برابرۍ په هڅوکې د نورو هېوادونو په پرتله له ناورین ځخه ډک او وروسته والي سره مخ دی.**

د افغانستان د جنسیت شاخص د جنسیتي برابرۍ لاندې اړخونه ارزوي: ۱) ژوند او روغتیا، ۲) زدکړه، د مهارت او پوهې لوړول، ۳) کار او مالي ونډه، ۴) تصمیم نیولو کې ګډون، ۵) او له تاوتریخوالي څخه خلاصون. یاد شوي اړخونه، یوولس شاخصونه (انډیکېټرونه) لري چې اته یې پایښت لرونکي پراختیا پورې اړه لري؛ او د جنسیتي برابرۍ، د ښځو د پیاوړتیا، او د فرصتونو په انتخابولو کې د آزادۍ درلودل او له هغوی څخه کټه اخیستل، هغه موارد دي چې د دې شاخصونو په رڼا کې ارزول کیږي، او د افغانستان وضعیت په اړه په پراخه کچه ارزونه وړاندې کوي.

د افغانستان ډیفاکټو اداري لخواه د پرله پسې او یو بل سره پیيلي فرمانونو ښځو لپاره د حقونو د ملاتړ بنسټونه له منځه وړي او د ښځو او نجونو اساسي آزادۍ یې د ننګونې سره مخ کړي دي. د امربالمعروف او نهی عن المنکر قانون (د ۲۰۲۴م کال د اګست میاشت) او په طبي روزنیزو مرکزونو کې د ښځو پر زده‌کړو بندیز (د ۲۰۲۴م کال د دسامبر میاشت)، چې دغې څېړنې لپاره د ارقامو له ټولولو (د ۲۰۲۴م کال د مارچ میاشت) وروسته صادر شوي، د ښځو پر وضعیت، او په ټولیزه توګه، هېواد کې د جنسیتي برابرۍ پر هڅو پراخه اغېزه اچولې ده.

دغه ګزارش د ښځو او نجونو وضعیت په بېلابېلو وختونو کې په پرتله‌ییزه توګه څېړي. د ګزارش د وړاندوینې له مخې، که د ښځو د حقونو ناورین ته رسیدګي و نه شي او د ملت پراختیا لپاره د ښځو او نارینه‌وو تر منځ برابرۍ ته د یوې اړتیا په سترګه و نه‌کتل شي، د پراختیا اړوندو شاخصونو په برخه کې د افغانستان د نمرو کچه به، له بده مرغه، په دوامداره توګه ټیټیږي.

## د څېړنې مېتود (مېتودولوژي)

د افغانستان د جنسیت شاخص د بېلا بېلو مېتودونو له لارې جوړ شوی دی. له یوولسو دوه‌ګونو شاخصونو څخه، چې شپږ شاخصونه یې د لومړنیو مالوماتو راټولولو په لړ کې اېډېټ شوي او عبارت دي له: د ثانوي تعلیماتو کچه؛ له زدکړو، کار او روزنې څخه پاتې نجونې؛ کاري ځواک کې د ګډون کچه؛ بانک او یا د موبایل منې مؤسساتو سره د مالي حساب درلودل؛ پارلمان کې ونډه؛ او سیمه‌ییزو ادارو کې ونډه. له ۱۸ کالونو څخه کم عمر لرونکو نجونو څخه د ارقامو ټولولو پر وړاندې د محدودیتونو د شتون، او اوسني حالت پورې تړلي امنیتي او د خوندیتوب اندېښنو له امله، په ځینو شاخصونو کې د ذکر شوي عمر ګروپونه له نړیوالو شاخصونو سره توپیر لري.

په همدې ډول، پنځه نور شاخصونه د مالوماتو د نشتوالي له امله اېډېټ شوي نه دي. دا شاخصونه عبارت دي له: د ښه عمر توقع؛ د عصري مېتودونو له لارې د کورنۍ پلانول؛ د ځوانو مېرمنو تر منځ د زېږون کچه؛ د مدیریت په پوستونو کې د ښځو ونډه؛ او هغه ښځې چې مېړه لخوا فزیکي او/یا جنسي تاوتریخوالي سره مخ دي. د دغو پنځو شاخصونو اړوند د مالوماتو راټولول ناشونی او یا هم له امنیتي ستونزو له امله ناممکن و؛ او پر ځای یې، په همدې شاخصونو پورې تړلې شته (ثانوي) مالومات او موندنې د وضعیت ارزولو په موخه کارول شوي دي. په دې ګزارش کې ټول شامل یوولس شاخصونه او ورسره مل د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداري لخوا راټول شوي لومړنۍ ډېټا/ معلومات د جنسیت برابرۍ په برخه کې د پرمختګ او شاتګ ارزول شوي او سیستماتیک خنډونه او فرصتونه په نښه شوي دي.

هېواد په کچه، لومړني مالومات له ۲۱۵۵ وګړو (۱۰۶۶ ښځې او ۱۰۸۹ نارینه‌وو) څخه، د ۲۰۲۴م کال د فبرورۍ له ۲۵مې تر مارچ ۱۸مې پورې، د سروې له لارې راټول شول. دا سروې د هېواد په اتو ولایاتو کې، چې د اتو زونونو استازیتوب کوي، ترسره شوه؛ په هر ولایت کې څلور ولسوالۍ – چې یوه یې ښاري او درې یې لرې پرتې وې، انتخاب شوې؛ او بیا په هره ولسوالۍ کې دوه کلي، او په هر کلي کې اته کورنۍ په «تصادفي توګه» د «ښې لاس قاعدې» پر اساس دغې سروې لپاره انتخاب شول. یاده شوې ډېټا، د پرانیستې ډېټا کټ (Open Data Kit) په مرسته چې د ډېټا ټولولو ګرځنده پلېټ‌فارم دی، ټوله شوې ده.

# په افغانستان کې د جنسیت برابرۍ ارزونه

**افغانستان د هغو ټولو شرایطو د له منځه تللو شاهد دې چې د جنسیتي برابرۍ او د ښځو د پیاوړتیا لپاره پرېکنده رول لري. جدي ننګوني او سیستماتیک خنډونه د ښځو حقونه او آزادۍ محدودوي، جنسیتي توپیر پراخوي او په ټولیزه توګه، د ښځو وضعیت له ستونزو سره مخ کوي.**

په نړۍ کې د جنسیت برابرۍ له هڅو څخه د نظارت په موخه، په ۲۰۲۳م کال کې ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره (UN Women) او د ملګرو ملتونو د پراختیا برنامه (UNDP) د ښځو د پیاوړتیا شاخص (WEI) او د جنسیت برابرۍ نړیوال شاخص (GGPI) په ګډه پېژاین کړ. د دغې دوه‌ګوني شاخصونو موخه دا ده ترڅو په هېوادونو کې د نارینه‌وو او ښځو خپل حقوقو او فرصتونو ته د دوی لاسرسي او د ګټې اخیستنې کچه وارزوي. د دغې دوه‌ګوني شاخصونو مقصد دا دی ترڅو په ملي او نړیواله کچه د پالیسو پلې کېدو، د ښځو او نجونو پیاوړتیا او د جنسیت برابرۍ لپاره د څېړنو او دادخواهۍ هڅو لارښوونه وکړي.

هان د ۲۰۲۱م کال د اګست میاشتې مخکې، افغانستان د جنسیت برابرۍ د نړیوال شاخصونو له مخې تر ټولو ټیټې نمرې درلودې.[1] دغه ګزارش چې افغانستان کې وضعیت ارزوي، د جنسیت برابرۍ اړوند د پایښت لرونکې پراختیا موخه د پلې کولو راتلونکو هڅو لپاره د لارښود ارزښت لري.


دغه ګزارش هغه موندنې وړاندې کوي چې افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د دوه‌ګونو شاخصونو د کارولو له لارې لاسته راغلې دي. موندنې د افغان ښځو پر وړاندې ځو پراوېزې نابرابرۍ برسېروي. هغه ډېټا چې د سروې له لارې لاسته راغلې، د جنسیت برابرۍ په برخه کې پرمختګ او شاتګ څرګندوي، او هم پالیسي جوړونکو او د دادخواهۍ هڅو لپاره د سرچینې په توګه یو معیار ګڼل کېدای شي.

د وخت په تېرېدو سره به باوري لانجېټيودي/اوږدمهاله ډېټا (هغه ډېټا چې بېلابېلو وختونو کې د مشخصو وګړو وضعیت ارزوي) د وضعیت او تمایلاتو څرګنولې د ارزولو لپاره به اړین وي، او د واکمنو ادارو لخوا، هغه که مشروع وي یا ډیفاکټو وي، د ښځو او نجونو پر وړاندې د کړنو حساب ورکولو په موخه د اغېزمنو اقداماتو په پلې کولو کې به مهم رول ولري. دوامداره نظارت به مرسته وکړي تر څو د جنسیتي برابرۍ اړوند مسایل د نړیوالې اجنډا په سر کې ځای ولري او د افغان ښځو او نجونو حقونه او آزادۍ تر دې زیات له ننګونو سره مخ نه شي. همدارنګه، له دوامداره نظارت څخه په هېواد کې د جنسیتي برابرۍ او د ښځو د پیاوړتیا په برخو کې د پرمختګ ارزولو لپاره کار اخیستل کېدلی شي.

### د ښځو د پیاوړتیا شاخص



د نړۍ په کچه د **۶۰,۷ سلنه** ښځو په پرتله،




افغان ښځې د خپلو آزادۍ او حقونو په کارولو سره او د فرصتونو انتخاب لپاره یوازې **۱۷,۳ سلنه** بشپړې پیاوړتیا ته رسیږي.

### د جنسیت د برابرۍ نړیوال شاخص



د نړۍ په کچه د **۷۲,۱ سلنه** ښځو په پرتله،



افغان ښځې یوازې **۲۳,۷ سلنه** د هغې څه لاسته راوړې چې نارینه یې د بشري پراختیا په مهمو برخو- لکه روغتیا، تعلیم، مالي سهم، او تصمیم نیولو کې ترلاسه کوي.

---

۱ په ۲۰۲۲ کې افغانستان د UNDP د جندر نابرابرۍ شاخص برخه کې ۰.۶۶۵؛ د UNDP جنسیت پراختیا شاخص برخه کې ۱۶۲/۱۶۶ مقام او ۰.۶۶۵ نمرې، او بیا په ۲۰۲۳م کال کې د جورجټاون ښځې-سولې-امنیت شاخص برخه کې ۰.۲۸۶ نمرې او ۱۷۷/۱۷۷م مقام ترلاسه کړ.

## په دوه‌ګونو شاخصونوکې د افغانستان ځای

د ښځو پیاوړتیا شاخص (WEI)، د فرصتونو په انتخاب او کارولو کې د ښځو توان او آزادی ارزوي؛ او د ارزونې په بهیر کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د تاوتریخوالي ابعاد څېړي. په ۲۰۲۴م کال کې، د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداري د محاسبې پر اساس، افغانستان ۰.۱۷۳ امتیاز تر لاسه کړی؛ یانې، په اوسط ډول، افغان ښځې د خپلو حقونو او آزادیو کارولو لپاره یوازې ۱۷.۳ سلنه بشپړې پیاوړتیا ته رسیږي.

که وګورو، د افغان ښځو پیاوړتیا کې ۸۲.۷ سلنه تشه ده. یانې په نړۍ کې ښځې په منځنۍ کچه ۶۰.۷ سلنه بشپړې پیاوړتیا ته رسیږي. د جنسیتي برابرۍ نړېوال شاخص (GGP) د ښځو او نارینه‌وو تر منځ توپیر د بشري پراختیا څلورو ابعادو/مواردو په رڼا کې ارزوي. دا ابعاد عبارت دي له: روغتیا، تعلیم، مالي ونډه، تصمیم نیولو کې ونډه. په ۲۰۲۴م کال کې افغانستان د ۰.۲۳۷ امتیاز ترلاسه کړ؛ یانې، افغان ښځې یوازې ۲۳.۷ سلنه د هغې څه لاسته راوړې چې نارینه یې د بشري پراختیا په یاد شویو برخو کې ترلاسه کوي؛ او په دې توګه، افغانستان کې د جنسیتي توپیر کچه ۷۶.۳ سلنې ته رسوي. برعکس، په نړۍ کې ښځې ۷۲.۱ سلنه د هغې څه لاسته راوړې چې نارینه یې د یاد شویو بشري پراختیا برخو کې ترلاسه کوي.

د دې امتیاز په ترلاسه کولو سره، افغانستان د GGPI شاخصونو لخوا ارزول شوي په ټولو ابعادو کې د نړۍ په ټیټ کتار کې راغلی دی. که څه هم د ډېفاکټو اداري له لوري د بشري حقونو په خاصه توګه د ښځو د حقونو پر وړاندې د سیستماتیکو او بنسټیزو بندیزونو له امله د افغانستان امتیاز له ۲۰۲۱م کال د آګست میاشتې راهیسې اپډېټ شوی نه دی خو، د هر شاخص لاندې وضعیت تر پخوا لا خراب شوی دی. همدارنګه، که څه هم د جنډر ډېټا د نه شتون له امله ځینې شاخصونو لپاره اړوند مالوماتو ته لاسرسی محدود و، خو بیا هم پرتله‌ییزې ارزونې د افغان ښځو د وضعیت په اړه مهمې موندنې په ګوته کوي.

د جنسیت برابرۍ سره د ډېفاکټو اداري بې‌سارې حساسیت له امله د ځینو شاخصونو په برخه کې- لکه پارلمان (چې د ډیفاکټو کابینې له ترکیب څخه ارزول کېږي) او سیمه‌ییزې ادارو کې د ښځینه استازو نه شتون، د افغانستان نمرې صفر کړې دي؛ او دا په خپله د شاتګ یو د اندېښنې وړ انځور څرګندوي. همدارنګه، د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالي، د زېږون تنظیم لپاره عصري میتودونو ته لاسرسی، او د ځوانو ښځو ترمنځ د زېږون کچې اړوند شاخصونو لپاره، د کلتوري حساسیتونو او د ډېفاکټو اداري لخوا د ډېټا پر ټولولو د بندیز له امله، اپډېټ شوي نه دي. یاد شوي شاخصونه له موجودو ډېټا (له ۲۰۱۸م تر ۲۰۲۴م) او د UN Women لخوا په ۲۰۲۴م کال کې راټول شوي ډېټا له مخې ارزول شوي دي. کار، مالي سهم او تعلیم، او د مهارت او پوهې لوړولو اړوند مالومات د اپډېټ شوي میتودولوژۍ (د څېړنې میتود) په مرسته ارزول شوي دي؛ او اړوندې موندنې د اندېښنې وړ انځور وړاندې کوي او ښیي چې اوسني وضعیت ته په کتو، د یادو شاخصونو اړوند وضعیت نور هم په خرابېدو روان دی.

## په افغانستان کې د جندر څېړنو پر وړاندې ننګونې او فرصتونه

افغانستان لپاره د WEI او GGPI شاخصونو د ځانګړې کولو په موخه، د پایښت لرونکې پراختیا موخو اړوند له شاخصونو کار اخیستل شوی تر څو د افغان ښځو ځانګړی وضعیت او ننګونې وڅېړي. افغانستان کې د ښځو او د جنسیت برابرۍ په اړه څېړنه او له وضعیت څخه څارنه، په داسې شرایطو کې چې د بندیزونو له امله د ښځو د ژوند ټول اړخونه اغېزمن کړي، په ځانګړې توګه ستونزمن کار دی. دوامداره سیاسي بې‌ثباتي او د خوندیتوب اړوند اندېښنې یادې ننګونې نورې هم پېچلې کړې دي. د ډېټا ټولولو بهیر انعطاف‌پذیرۍ او حساسیتونو ته پام غواړي. د باورې ډېټا ټولول ستونزمن کار دی او له همدې امله پر ښځو او نجونو د ډېفاکټو اداري لخوا د پالیسیو د اغېز بشپړه ارزونه محدودوي. هغه برخو کې چې اړونده ډېټا موجوده ده، د جنسیت برابرۍ پر وړاندې جدي شاتګ بیانوي.

# د دوه‌ګونو شاخصونو (انډېکس) او انډیکېټرونو ګراف


لاندې ګراف د ښځو د پیاوړتیا (WEI) او د د جنسیت برابرۍ نړیوال (GGPI) شاخصونو لاندې د پایلې ښې (انډېکېټر) ځرګندوي او د دوه‌ګونو شاخصونو ترمنځ اړیکې بیانوي. په داسې حال کې چې ځینې انډیکېټرونه (په ارغواني رنګ) مشترکات په ګوته کوي، نور یې بیا د جنسیت برابرۍ مشخصو ابعادو/مواردو لکه «ژوند او سالمه روغتیا»، او «له تاوتریخوالي څخه د خلاصون» د یو بل لپاره بشپړونکی رول په ډاګه کوي.

**ژوند او سالمه روغتیا**

هغه ښځې چې د زېږون په عمر کې وي او توانېدلې وي چې د عصري مېتودونو له لارې خپله کورنۍ پلان کړي (د هغو ښځو سلنه چې عمر یې د ۱۵–۴۹ کالو تر منځ وي) [MMC] **پاینټلرونکې پراختیا موخې، ۳،۷،۱ شاخص**

**له تاوتریخوالي څخه خلاصون**

هغه ښځې یا نجونې چې په تېرو دوولسو میاشتو کې د اوسني یا مخکني مېړه لخوا د فزیکي یا/او جنسي تاوتریخوالي سره مخ شوي وي (د هغو ښځو سلنه چې عمر یې د ۱۵–۴۹ کالو تر منځ وي) [IPV] **پاینټلرونکې پراختیا موخې، ۵،۲،۱ شاخص**




**ژوند او سالمه روغتیا**

ځوانو ښځو ترمنځ د زېږون کچه (په ۱۰۰۰ زېږونونو کې د ۱۵–۴۹ عمر لرونکو ښځو سلنه) [ABR] **پاینټلرونکې پراختیا موخې، ۳،۷،۲ شاخص**

**تعلیم، د مهارت او پوهې لوړول**

هغه وګړي چې ثانوي یا لوړې زدکړې یې بشپړې کړې وي (د جنس په تفکیک سره، د ۱۸ یا تر هغې پورته عمر لرونکو وګړو سلنه) [CSE] **پاینټلرونکې پراختیا موخې، ۴،۱،۲ شاخص**

هغه ځوانان چې له تعلیم، کار یا روزنې بې برخې دي (د ۱۸–۲۹ عمر لرونکو سلنه) [NEET] **پاینټلرونکې پراختیا موخې، ۸،۶،۱ شاخص**

**کار او مالي ونډه**

په کاري ځواک کې د هغو افرادو ونډه چې کورنۍ غړي لکه د ژوند شریک او حداقل تر شپږو کالو کم ماشوم ولري (د جنس په تفکیک سره، د ۱۸–۵۹ کالو عمر لرونکو سلنه) [LFPRCW] **پاینټلرونکې پراختیا موخې، ۵،۴ شاخص**

په بانک یا د موبایل مني خدمتونو ورانډې کوونکو سره د مالي حساب درلودل (د جنس په تفکیک، د ۱۸ یا تر هغې پورته عمر لرونکو سلنه) [FINACNT] **پاینټلرونکې پراختیا موخې، ۸،۱۰،۲ شاخص**

**په تصمیم‌نیولوکې ونډه**

په پارلمان کې ونډه (د جنس په تفکیک سره، د وګړو سلنه) [PR] **پاینټلرونکې پراختیا موخې، ۵،۵،۱ شاخص**

په سیمه‌ییزې ادارو کې ونډه (د جنس په تفکیک سره، د وګړو سلنه) [LG] **پاینټلرونکې پراختیا موخې، ۵،۵،۱ شاخص**

په مدیریتي پوستونو کې ونډه (د جنس په تفکیک سره، د وګړو سلنه) [TMNG] **پاینټلرونکې پراختیا موخې، ۵،۵،۲ شاخص**

**ژوند او سالمه روغتیا**

د عمر یوه برخه یې د ښې روغتیا په درلودلو سره تېره کړې وي (د جنس په تفکیک سره، د وګړو سلنه) [HALE/LE] **پاینټلرونکې پراختیا موخې، ۳،۷ شاخص**


# ژوند او سالمه روغتیا

د روغتیا نړیوال سازمان د ۲۰۲۴م کال ګزارش له مخې، افغانستان کې ښځو لپاره **د عمر توقع** (پایښتلرونکي موخې، ۳.۷ شاخص) ۸۴.۱ سلنه او نارینه‌وو لپاره ۸۶.۴ سلنه ښودل شوي ده. د ښځو او سړیو تر منځ دا توپیر په هغو سیستماتیک او ټولنیزو خنډونو پورې تړاو لري چې تر بل هر چا د ښځو روغتیا ته زیان رسوي. د بېلګې په توګه، ناکافي زېربناوې، د نوي ښځینه روغتیایي کارکونکو پر روزلو بندیز او د خدمتونو په ورکولو کې جنسیتي تبعیض له هغو مواردو دي چې د ښځو روغتیا اغېزمنوي. اوس مهال، **د هغو نجونو تر منځ چې عمر یې د ۱۵-۱۹ کالونو دې د زېږون کچه د نړۍ تر منځني کچې هم لوړه ده.** د اټکل له مخې د نړۍ منځنۍ کچې ۴۱.۳ سلنې په پرتله، افغانستان کې په ۱۰۰۰ ښځو کې به ۶۲ تنه دي.[۲] د دې عوامل، د نجونو کم عمره ودول او نجونې د لویانو کارونو ته اړ ایستل دي چې په نتیجه کې نجونې له پیاوړې کېدو څخه بې‌برخې کیږي. د زېږون تنظیم لپاره عصري میتودونو ته محدود لاسرسی، ښځو لپاره د زېږون روغتیا او د کورنۍ پلانولو هڅې اغېزمنوي. تر **نیمایي کمې ښځې د کورنۍ پلانولو په موخه د زېږون د تنظیمولو عصري میتودونو ته لاسرسی لري** (پایښتلرونکي پراختیایي موخې، ۳.۷.۱ شاخص). په سالمه توګه ژوند کولو او روغتیایي خدمتونوته د لاسرسي پر وړاندې زیاتېدونکي خنډونه دا څرګندوي چې د سالمه ژوند په برخه کې جنسیتي توپیر به نور هم زیات شي.

**پایښت لرونکي موخې، ۳,۷ شاخص:** د ۲۰۳۰م کال پورې د کورنۍ پلانول، تعلیم او پوهاوی په شمول د زېږون او میندواري روغتیایي خدمتونو ته دې عمومي لاسرسي تامین، او ملي استراتیژیو او برنامو کې د زېږون روغتیا موضوع شاملول دې تضمین کړای شي.



په ۲۰۲۴م کال کې **۴۸,۷ سلنه** ښځو **د عصري میتودونو له لارې کورنۍ پلان** کړې دي.[۴]



د **۸۶,۴ سلنه** نارینه‌وو په پرتله،



په ۲۰۲۱ کال کې **د سالم ژوند** کولو کچه د ښځو تر منځ **۸۴,۱ سلنه** وه.[۳]



په ۲۰۲۴م کال کې افغانستان کې، د هغو نجونو او ښځو تر منځ چې عمر یې د ۱۵–۱۹ کالونو وي، **۶۲ په ۱۰۰۰** کې اټکل شوی دی.[۵]

۲ د روغتیا نړیوال سازمان. ۲۰۲۳.Global Data Observatory. دا برخه د ۲۰۲۵م کار د مارچ په ۱۷مه لوستل شوي ده.

۳ د روغتیا نړیوال سازمان. ۲۰۲۳.Global Data Observatory. دا برخه د ۲۰۲۵م کار د مارچ به دریمه لوستل شوي ده. دا شاخص د دې سروي له لارې اپډېټ کېدای نه شوه.

۴ UNDESA. ۲۰۲۲. Model-based Estimates and Projections of Family Planning Indicators 2022.. نیویارک. د UNFPA څانګه. دغې شاخص لپاره د سروي په ترڅ کې ارقام ټول شوي نه دي ځکه چې اړونده موضوع ډېره حساسه وه. د ۵.۶.۱ شاخص د هغو ښځو په اړه ارزونه وړاندې کوي چې عمر یې د ۱۵–۴۹ کالونو وي، او د زېږون روغتیا، میندواري، د زېږون پلانولو میتودونه خپله انتخابوي. په دې اړه دا راپور ولولئ. UNDESA. ۲۰۲۲ World Family Planning ۲۰۲۲. نیویارک: د ملګرو ملتونو سازمان. UN Women. ۲۰۲۴. د افغانستان د جنسیت شاخص ډېټا.


۵ UNFPA Afghanistan: Data Overview. UNFPA (United Nations Population Fund). دا برخه ۲۰۲۴م کال در جولای په ۲۸مه لوستل شوی دی.

# تعلیم، مهارت او د پوهې لوړول


د نجونو پر تعلیم د دېفاکټو اداري بندیز له امله، **په ثانوي تعلیماتوکې د ۱۸ کالونو پورته د نجونوګډون** (پایبښتلرونکي پراختیا موخې ، ۴.۱.۲ شاخص) **به صفر ته رسیږي.** مجازي (آنلاین) او د زدکړې پټ ټولګي، که څه هم د هیڅ په نشتوالي کې یو حیاتي ګام دی، خو نه شي کولی چې د رسمي زدکړو ځای ونیسی؛ نو به همدې دلیل، دا ډول زدکړې د ارزونې په بهیر کې نه شاملېږي. پر تعلیم د سیستماتیک بندیز کچه، کولی شو په **«تعلیم، کار او روزنه کې د ښځو او نجونو نهشتون»** (Not in Education, Employment, Training- NEET) (پایبښتلرونکي پراختیا موخې، ۸.۶.۱ شاخص) له مخې وارزوو. په ۲۰۲۴م کال کې، په تعلیم، کار او روزنه کې د ښځو نه شتون د نارینهوو په پرتله څلور برابره و (۷۸ سلنه ښځې، ۲۰ سلنه نارینه).[۶] موندنې دا څرګندوي چې که دا لړی ادامه ومومي، په تعلیم او اقتصاد کې به د جنسیت نابرابری نوره هم زیاته شي او ښځې به د هغو مهارتونو او اساسی زدکړو له فرصتونه څخه بې برخې شي چې په اقتصادي فعالیتونو کې د دوی ونډه تضمینوي. په طبی مؤسساتو کې د ښځو پر زدکړو وروستی بندیز دا ښیي چې افغانستان، تعلیم ته د ودې پر ځای، پر تعلیم د محدودیتونو پر لور روان دی.

**پایبښتلرونکي پراختیا موخې ، ۴,۱ شاخص:** تر ۲۰۳۰م کال پورې، د هغو ځوانانو په شمېر کې دې زیاتوالی راشي چې د تخنیکي، حرفوي، د کار موندنې او یا د تشبثاتو په برخه کې هغه د اړتیا وړ مهارتونه ولري چې دوی ته د معیشت زمینه برابرولی شي.


**پایبښتلرونکي پراختیا موخې ، ۸,۶ شاخص:** تر ۲۰۳۰م کال پورې دې په «کار، تعلیم یا زدکړو کې د ځوانانو نه شتون» کچه ټیټه شي.




په ۲۰۲۴م کال کې د **۲۰,۲ سلنه** نارینهوو په پرتله،



**۷۷,۶ سلنه** ښځې چې عمر یې د ۱۸-۲۹ کالونو تر منځ دی، **اوس مهال له تعلیم، کار یا روزنې بې برخې دي.**[۸]



په ۲۰۲۴م کال کې د **۲۸,۹ سلنه** نارینهوو په پرتله،



**۱۱,۸ سلنه** ښځې چې عمر یې تر ۱۸ پورته و **ثانوي یا تر هغې لوړې زدکړې بشپړې کړې وې.** خو، د دېفاکټو اداري د بندیز له امله، په راتلونکې کې صفر سلنه ښځې په ثانوي زدکړو بوختې وي.[۷]

۶ Women. ۲۰۲۴. د افغانستان جنسیت شاخص اړوند ډېټا.

۷ په دې رقم کې د هغو نجونو شمېر هم شامل دې چې ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، عالي او ترهغې لوړ تحصیلات یې بشپړ کړي وي.


۸ پورتنی سرچینه.

# کار او مالي ونډه


په ۲۰۲۴م کال کې د نارینه‌وو په پرتله، **په کاري ځواک کې د ښځو د ونډې** (پایښت‌لرونکي پراختیا موخې، ۵.۴ شاخص) کچه نوره هم ټیټه شوې ده ( د نارینه‌وو ونډه ۸۹ سلنه، د ښځو ونډه ۲۴ سلنه). هغه چې په کار بوختې دي، بیا د کم معاش، په مؤقت پوستونو او غیر رسمي سکټورونو کې په دندو بوختې دي. د ډیفاکټو اداري فرمانونو او ټولنه کې رایج دودونو له امله په مشخصو سکټورونو (لکه مرستندویه مؤسساتو، د ملګرو ملتونو اړوند ادارو کې او یا د ښکلا د سالونونو) کې د ښځو پر کار او بوختیا بندیز لګېدلی دی؛ او کاری فرصتونو او کار او بار ته د دوی لاسرسی یې محدود کړی دی. کاروبار پر وړاندې دا ډول محدودیتونه د اقتصادي خپلواکۍ او فرصتونو ته د لاسرسي په ارزولو کې یو مهم ټکی دی. افغان ښځې مالي سرچینو، لکه بانکي حسابونه او موبایل مني خدمتونو ته چې د ځان بسیاینې لپاره چې حیاتي ګڼل کیږي، محدود لاسرسی لري. په ۲۰۲۴م کال کې، د ۲۰.۱ سلنه نارینه‌وو په پرتله، **یوازې ۶,۸ سلنه ښځو په بانک او یا د موبایل مني مؤسساتو کې حساب درلود** (پایښت‌لرونکي پراختیا موخې، ۸.۱۰.۲ شاخص).[۹]

**پایښت‌لرونکي موخې، ۵,۴ شاخص:** تر ۲۰۳۰م کال پورې، د عامه خدمتونو، زېربناوو، او ټولنیز خوندیتوب اړوند پالیسیو له لارې دې د په کور کې پاملرنې، روزنې او بې مزده/معاش کار ته ارزښت ورکړل شي، د کور او کورنۍ په کارونو کې په ګډه د مسوولیت اخیستلو دود ته وده ورکړل شي.


**پایښت‌لرونکي موخې، ۸,۱۰ شاخص:** تر ۲۰۳۰م کال پورې، د ظرفیت پیاوړي کولو له لارې، کورني مالي بنسټونه دې وهڅولو شي تر څو بانکي خدمتونو، بیمې او مالي خدمتونو ته د ټولو وګړو لاسرسی تامین کړي.




په ۲۰۲۴م کال کې، د **۸۸,۹ سلنه** نارینه‌وو په پرتله،



**۲۴,۲ سلنه** ښځو په کاري ځواک کې ونډه لرله.[۱۰]



په ۲۰۲۴م کال کې، د **۲۰,۱ سلنه** نارینه‌وو په پرتله،



**۶,۸ سلنه** ښځو په **بانک او یا د موبایل مني خدمتونو** په مؤسساتو **کې شخصي یاګډ حساب درلود.**[۱۱]

۹ UN Women. ۲۰۲۴. د افغانستان جنسیت شاخص اړوند ډېټا.


۱۰ دا پایله د UN Women د سروې له ارقامو څخه لاسته راغلې، او لزوماً د کاري ځواک نړېوالې سروې سره سمون نه‌خوري، او په کاري ځواک کې د ټولو وګړو نمایندګي نه شي کولی. [د ګزارش سره مل دریمه شمېره ضمیمه ولولئ]. دا شمېرې یوازې د کار نړېوال سازمان لخوا د ۲۰۲۱ کال سروې له مخې یو اپډېټ سره په دې ګزارش کې راغلی دی. د کار نړېوال سازمان سروی له مخې د ۷۷ سلنه نارینه‌وو په پرتله، ۲۳.۳ سلنه ځوانې (تر ۱۵ کالونو پورته عمر لرونکو) ښځو په کارې ځواک کې ونډه درلودله.

۱۱ UN Women. ۲۰۲۴. د افغانستان جنسیت شاخص اړوند ډېټا.

# تصمیم نیولوکې ونډه

اوس مهال، افغانستان په دوو شاخصونو کې (پایښتلرونکي پراختیا موخې، ۵.۵.۱ شاخص) د صفر امتیاز لري. دا شاخصونه عبارت دي له: **سیمه‌ییزو اداروکې ډ ښځو ونډه** (نږۍ کې د ۳۵.۵ سلنه ښځو په پرتله)، او **پارلمان کې د ښځو ونډه** (نږۍ کې د ۲۶.۳ سلنه ښځو په پرتله). وروستی مورد، د ډیفاکټو اداري د کابینې ترکیب ته په کتو ارزول شوي، چې ټول غړي (۱۰۰٪) یې نارینه دي. اوسني وضعیت ته په کتو چې په رهبرۍ کې د ښځو ونډې ته په ښه سترګه نه کتل کېږي، ښځو لپاره د ډیفاکټو اداري سره د اړیکو نېولو غیر رسمي چاره یوه حیاتي مسئله ده؛ خو دا چاره نه شي کولی چې د رسمي اړیکو او ونډې بدیل وګرځي. د اقتصادي سکټور په رهبرۍ او په ځانګړي توګه په مدیریتي نقشونو- او یا عامه او خصوصي برخو کې په تصمیمنېولو کې، د نارینه او ښځو تر منځ د نابرابرۍ اوږده سابقه، په وروستیو درېو کالونو کې د ښځو پر وړاندې د فرمانونو صادرول، ښځو لپاره نورې ننګونې هم زیږولې دي. د اټکل له مخې، د ۲۰۲۰م کال په پرتله چې پکښې ۵.۹ سلنه افغان ښځو په **مدیریتي پوستونو** کې (پایښتلرونکي پراختیا موخې، ۵.۵.۲ شاخص) کار کاوه، په ۲۰۲۴م کال کې، دا کچه ډېره لوېدلې ده. د ښځو رسمي حضور او د استازولی بشپړ نه شتون د دې سبب ګرځېدلی چې ښځې د خپل ژوند او ټولنې د ښه والي لپاره د پالیسي او د برنامو جوړولو له فرصتونو څخه محرومه پاتې شي. د ښځینه رهبرانو شتون، په ټولنه کې د ښځو د ټولنیزې ونډې د منل کېدو یو څرګنده شاخص دی، له سیاسي او اقتصادي پلوه دوی پیاوړې ښيي، او همدارنګه، نجونو او نورو ښځو لپاره د یوې پیاوړې ښځې او رول ماډلې په توګه څرګندېږي. خو، د اوسني وضعیت له امله ښځې د رهبرۍ په پوستونو کې ونډه نلري.


**پایښتلرونکي پراختیا موخې، ۵,۵,۱ شاخص:**
تر ۲۰۳۰م کال پورې دې، ښځو لپاره د بشپړ او اغېزناک ګډون او په سیاسي، اقتصادي او عامه چاپېریال کې د تصمیمنېولو په ټولو کچو کې د رهبرۍ برابر فرصتونه تضمین کړای شي.




په ۲۰۲۰م کال کې، **په مدیریتي پوستونوکې د ښځو ونډه ۵,۹ سلنه** وه.[۱۲]

که څه هم په دې اړه د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو د اداري لخوا کوم مالومات د ۲۰۲۴م کال سروې لپاره راټول کړې نه دي، خو د ډیفاکټو اداري له لورې د هېواد په کچه په ټولو سکټورونو کې له تصمیم نېولو څخه د ښځو محرومولو هڅو له امله نوموړې کچه به نوره هم ټیټه شوې وي.

د افغانستان پارلمان، واک ته د طالبانو له رسېدو سره، **منحل** شو.



په ۲۰۲۴م کال کې، **صفر سلنه** ښځو **د ډیفاکټو اداري په کابینه او یا په بلې ملي یا سیمه‌ییزې اداري** په لوړ مقام کې، ونډه لرله.[۱۳]



په ۲۰۲۴م کال کې، په **سیمه‌ییزو ادارو** کې د ښځو ونډه **صفر سلنه** وه.[۱۴]

---


۱۲ نړېوال بانک. افغانستان: د جندر اړوند د مالوماتو پورټل. دا برخه د ۲۰۲۵م کال د مارچ په ۱۷مه لوستل شوې ده. نوموړي شاخص د UN Women د ۲۰۲۴م کال د سروې له پایلو څخه اپډېټ شوی نه دی. دا موندنه، له هغو حکومتي یا نورو ملي ادارو له اداري ریکارډونو څخه اخیستل شوې چې اوس مهال افغانستان کې موجودې نه دي. د سروې پایلې د ښځو د ونډې کچه لوړه (۲۱.۱۲ سلنه) ښيي، خو کېدای شي دا ځکه لوړه وي چې د سروې په وخت کې، ځینو ښځو په خپلو خصوصي تشبثاتو کې خپل رول د مشر په توګه څرګند کړی وي.

۱۳ د سلما مشورتي مؤسسه ۲۰۲۴. ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره، د ۲۰۲۴م کال سروې. تراوسه خپره شوې نه ده.

۱۴ پورتنی سرچینه..

# له تاوتريخوالي څخه خلاصون

د مېړه لخوا **د افغان ښځو پر وړاندې د فزيکي او جنسي** تاوتريخوالي کچه د نړۍ اوسط په پرتله درې برابره زياته ده؛ په ۲۰۱۸ کال کې، کله چې په نړېواله کچه ښځې له ۱۳ سلنه تاوتريخوالي سره مخ وې، افغانستان کې ۳۴.۷ سلنه ښځو په تېرو دوولسو مياشتو کې د ورته ډول تاوتريخوالي سره د مخ کېدو خبر ورکړی و (د پايښتلرونکي پراختيا موخې، ۵.۲.۱ شاخص). ناموسي وژنې، د نجونو جبري او کم عمره وادول، د شخړو هوارولو لپاره په بدو کې د نجونو يا د ښځو ورکول، هغه کړنې دي چې د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالی لا پسې زياتوي؛ او په ټوليزه توګه، نجونو او ښځو لپاره آزاد ژوند او تصميم نيول ستونزمنوي، چې له امله يې د جنسيتي برابرۍ ټول ابعاد اغېزمنيږي. د حقوقي ملاتړ او خونديتوب سيستم نه‌شتون او، همدارنګه، د ډيفاکتو ادراې لخوا د توپيري پاليسيو پلي کول د دې باعث ګرځېدلی تر څو ښځې او نجونې د جنسيت پر بنسټ تاوتريخوالي او له ناوړه پايلو له امله له جدي زيان سره مخ شي. .



په ۲۰۱۸ کال کې، **۳۴,۷ سلنه** افغان ښځې په تېرو دوولسو مياشتو **کې خپل مېړه لخوا فزيکي او/يا جنسي** تاوتريخوالي سره مخ شوي وي.[۱۵]

**د پايښتلرونکي پراختيا موخې، ۵,۲,۱ شاخص:**
تر ۲۰۳۰ کال پورې، د ټولو ښځو او نجونو پر وړاندې هر ډول تاوتريخوالی- په عامه او خصوصي چاپېريال، او همدارنګه انساني قاچاق، جنسي او د ګټه اخيستنې نور ډولونه دې له منځه يوړل شي.

۱۵ ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره او د ملګرو ملتونو پراختيايي برنامه، ۲۰۰۳. برابرۍ ته د رسېدو لار: د ښځو د پياوړتيا او د جنسيتي برابرۍ دوه‌ګونې شاخصونه. نيويارک: ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره. دا برخه د ۲۰۲۵م کال د مارچ په ۴مه ولوستل شو.

| ابعاد | انډيکېټرونه | شاخصونه SDG | سرچينه | کال | د ښځو پياوړتيا WEI شاخص | د جنسيت برابرۍ نړيوال شاخص GGPI | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | ښځه | نارينه |
| **مجموعي امتياز** | | | | | ۰,۱۷۳ | ۰,۲۳۷ | |
| **ژوند او روغتيا** | د عمر يوه برخه يې د ښې روغتيا په درلودلو سره تېره کړې وي (د جنس په تفکيک سره، د وګړو سلنه) [HALE/LE] | پوري اړوند ۳.۷ | WHO 2024. The Global Health Observatory.[16] | ۲۰۲۱ | | ۸۴.۱ | ۸۶.۴ |
| | هغه ښځې چې د زېږون په عمر کې وي او د عصري میتودونو له لارې کورنۍ پلان کړي وي (د هغو ښځو سلنه چې عمر يې د ۱۵–۴۹ کالو تر منځ وي) [MMC] | ۳.۷.۱ | UNDESA Model-based Estimates and Projections of Family Planning Indicators 2022.[17] | ۲۰۲۴ | ۴۸.۷ | | |
| | ځوانو ښځو ترمنځ د زېږون کچه (په ۱۰۰۰ زېږونونو کې د ۱۵–۴۹ عمر لرونکو ښځو سلنه) [ABR] | ۳.۷.۲ | UNFPA 2024. UNFPA Afghanistan Data Overview.[18] | ۲۰۲۴ | ۶۲.۰ | | |
| **تعليم، مهارت او د پوهې لوړول** | هغه وګړي چې ثانوي يا لوړې زدکړې يې بشپړې کړې وي (د جنس په تفکيک سره، د ۱۸ يا تر هغې پورته عمر لرونکو وګړو سلنه) [CSE] ※ | ۴.۱.۲ | UN Women. 2024. Gender Index Afghanistan data. | ۲۰۲۴ | ۱۱.۸ | ۱۱.۸ | ۲۸.۹ ^ |
| | هغه ځوانان چې له تعليم، کار يا روزنې بې برخې دي (د ۱۸–۲۹ عمر لرونکو سلنه) [NEET] | ۸.۶.۱ | UN Women. 2024. Gender Index Afghanistan data. | ۲۰۲۴ | ۷۷.۶ | ۷۷.۶ | ۲۰.۲ |
| **کار او مالي ونډه** | په کاري ځواک کې د هغو افرادو ونډه چې کورنۍ غړي لکه د ژوند شريک او حداقل تر ښوونځي کالو کم ماشوم ولري (د جنس په تفکيک سره، د ۱۸–۵۹ کالو عمر لرونکو سلنه) [LFPRCW] | پوري اړوند ۵.۴ | UN Women. 2024. Gender Index Afghanistan data. | ۲۰۲۴ | ۲۴.۲ | ۲۴.۲ | ۸۸.۹ |
| | په بانک يا د موبايل منې مؤسساتو سره د مالي حساب درلودل (د جنس په تفکيک، د ۱۸ يا تر هغې پورته عمر لرونکو سلنه) [FINACNT] | ۸.۱۰.۲ | UN Women. 2024. Gender Index Afghanistan data. | ۲۰۲۴ | ۶.۸ | ۶.۸ | ۲۰.۱ |
| **په تصميم نيولو کې ونډه** | په مديريتي پوستونو کې ونډه (د جنس په تفکيک سره، د وګړو سلنه) [TMNG] | ۵.۵.۲ | UNSDG. World Bank. Gender Portal.[19] | ۲۰۲۰ | ۵.۹ | ۵.۹ | ۹۴.۱ |
| | پارلمان کې ونډه (د جنس په تفکيک سره، د وګړو سلنه)[PR] | ۵.۵.۱ | UN Women. 2024. Gender Index Afghanistan data. | ۲۰۲۴ | ۰ | ۰ | ۱۰۰ |
| | په سيمه‌ييزې اداراو کې ونډه (د جنس په تفکيک سره، د وګړو سلنه) [LG] | ۵.۵.۱ | UN Women. 2024. Gender Index Afghanistan data. | ۲۰۲۴ | ۰ | ۰ | ۱۰۰ |
| **له تاوتريخوالي څخه خلاصون** | هغه ښځې يا نجونې چې په تېرو دوولسو مياشتو کې د اوسني يا مخکني مېړه لخوا د فزيکي يا/او جنسي تاوتريخوالي سره مخ شوي وي (د هغو ښځو سلنه چې عمر يې د ۱۵–۴۹ کالو تر منځ وي) [IPV] | ۵.۲.۱ | WHO. WHO Data Portal.[20] | ۲۰۱۸ | ۳۴.۷ | | |

۱۶ د روغتيا نړيوال سازمان. Global Health Observatory. دا برخه د ۲۰۲۵م کال د مارچ په ۳مه لوستل شوې دی.

۱۷ UNDESA. ۲۰۲۲. Model-based Estimates and Projections of Family Planning Indicators 2022. نیويارک: د ملګرو ملتونو د وګړو د صندوق څانګه.

۱۸ UNFPA. UNFPA Afghanistan: Data Overview. دا برخه په ۲۰۲۴م کال کې د جولای په ۲۸مه لوستل شوې ده.

۱۹ نړيوال بانک. افغانستان: د جنسيت ډېټا پورټل. دا برخه د ۲۰۲۵م کال د مارچ په ۱۷مه لوستل شوې دی.

۲۰ ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره او د ملګرو ملتونو پراختيايي برنامه، ۲۰۰۳. برابرۍ ته د رسېدو لار: د ښځو د پياوړتيا او د جنسيتي برابرۍ دوه‌کوني شاخصونه. نيويارک: ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره. دا برخه د ۲۰۲۵م کال د مارچ په ۴مه ولوستل شو.

*※ د دې شاخص لپاره د سن بله له SDG شاخصونو څخه اخيستل شوې ده.*

*^ له سروې ډېټا څخه ترلاسه شوې رقم ۳۱.۶ و. خو، د تاييدي ارزونې له لارې عين رقم لاسته ترلاسه نه‌شو. دوهمه ضميمه کې بشپړ ګزارش ولولئ.*

**ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره په ملګرو ملتونو سازمان پورې تړلې د جنسیتي برابرۍ او د ښځو د پیاوړتیا ځانګړې څانګه ده. دغه اداره، د نړۍ په کچه د ښځو او نجونو له حقونو څخه د ملاتړ، او د دوی اړتیاوو ته د چټکې رسېدنې په موخه جوړه شوې ده.**

د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره د غړي هېوادونو سره د جنسیتي برابرۍ د نړېوالو نورمونو په جوړولو کې کار کوي، او د اغېزمنې پلې کېدو په مقصد یې له دولتونو او مدني ټولنو سره د اړوندو قوانینو، پالیسیو، برنامو او خدمتونو په جوړولو کې مرسته کوي، ترڅو د نړۍ په هر کونج کې ښځو او نجونو ته یې ریښتیني ګټې ورسیږي. دا اداره، ښځو او نجونو لپاره د پایښت لرونکي پراختیا موخې په عملي کولو، د لاندې څلورو استراتیژیک لومړیتوبونو له لارې، د ژوند په ټولو برخو کې د دوی د برابرې ونډې ملاتړ کوی: د حکومتوالی په سیستم کې د ښځو رهبریت، ونډه، او ګټه؛ د ښځو لپاره خوندي عاید، وړ کار، او اقتصادي بسیاینه؛ ښځو او نجونو لپاره له هر ډول تاوتریخوالي پرته ژوند؛ د سولې په بهیرونو کې، له جګړو او طبیعي پېښو څخه د مخنیوي او د بشري مرستو په چارو کې د ښځو او نجونو له لومړیتوبونو سره سم برابره ونډه. همدارنګه، ښځو لپاره د ملګرو ملتونو اداره د ملګرو ملتونو سازمان لخوا د جنسیت برابرۍ د ودې هڅې همغږې کوي او ترویجوي.

UN WOMEN

UN Women | د ملګرو ملتونو د ښځو څانګې
www.asiapacific.unwomen.org

د اروپایي اتحادیې
له‌خوا تمویل شوی